مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

د ګل جان صابر ژباړه

۲۰۲۲/۰۱/۰۲

# هوښیاره نجلۍ

یوه ورځ پاچا او وزیر د ښکار ښخه راروان وو او ویې لیدل چې د دوی تر مخ یوه په ملا کړوپه ښځه روانه ده.
پاچا د آس کیزه خوشې کړه، په ښځه پسې یې خان ور ورساوه او له هغې ښخه یې پوښتنه وکړه:
- ای سپین سرې، ته ځوک یې او دلته څه کوې؟
سپین سرې ځواب ورکړ:
- ته مې نه وینې چې زه یوه ښځه یم. دنده مې دا ده چې یو بدمرغه او بل نېکمرغه کوم.
پاچا حیران شو او ویې ویل:
- ته څه ځواک لرې چې یو نېکمرغه او بل بد مرغه کوې؟
سپین سرې وخندل او ویې ویل:
- ای پاچا! ته په دې نه پوهېږې چې ښځه هر څه کولی شي؟ که چېرې ښځه کور وران نه کړي هغه به زرګونه کلونه ودان وي.
پاچا ته د ښځې خبرې خوند ورنکړ خو وزیر د هغې د خبرې سره موافقه وښووله.
سپین سرې لا پخوا ډېره وروسته پاتې شوه خو پاچا او وزیر په همدې برخه کې خبرې کولې او ان په پاچایي مانۍ کې یې هم یو د بله مشاجره کوله.
پاچا درې لوڼې لرلې. هغه خپلې لوڼې را وغوښتلې چې د ده او وزیر تر منځ د نظر توپیر ته حل لاره پیدا کړي.
پاچا خپلو لوڼو ته وویل:
- لورانو، کور ځوک جوړوي، ښځه او که نارینه؟
مشرې لور وویل:
- ښکاره خبره ده چې کور نارینه جوړوي.
پاچا د لور ځواب خوشاله کړ او ویې ویل:
- مننه لورې، ته رښتیا وایې. پاچا دا وویل او خپلې منځوی لور ته یې مخ ور واړاوه او ورته ویې ویل چې ته څه وایې؟
منځوی لور وویل:
- پلاره، ښځه څه لرې چې کور جوړ کړي؟ څرګنده خبره ده چې کور نارینه جوړوي.
پاچا خپلې کشرې لور ته مخ ور واړاوه او ویې ویل:
- لورجانې ته څه فکر کوې؟
کشرې لور هغه نا امیده کړ او ویې ویل :
- پلاره، کور ښځه جوړوي.
پاچا چې د خپلې خوښې د مخالفت زغم یې نه لرلو په غوسه له تخت ښخه را کښته شو او ویې ویل:
- چې داسې ده نو زه به تا یو داسې بېوزله ته ورکړم چې کور نه لرې، و به ګورو چې ته څرنګه کور جوړوې!
باید وویل شي چې د ښار په یو ځنډه کې یوه ډېره بېوزلې سپین سرې، فاتو-ګرې په یوه کوډله کې د خپل لمسي احمد سره اوسېدله.احمد دومره تنبل او بېکاره و چې ان خوراک او څښاک یې هم نه غوښت خو چې د ځای ښخه نه وای ښورېدلی. پاچا همدغه فاتو-ګرې را وغوښتله او ورته ویې ویل:
- سپین سرې، غوږ ونیسه، زه خپله لور ستا لمسي ته درکوم. څرنګه چې ته ډېره بېوزله یې او هېڅ نه لرې نو د واده نیول هم لازم نه دي، کله چې کور ته تللې زما لور هم بېله ټنګ ټکوره درسره بوزه.
سپین سرې بېخي وارخطا شوه او پښې یې وربېرډېدلې. هغې پاچا ته وویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

- ای ټولواکه، دا ته څه وایې، زما د لمسي او ستا د لور واده؟ زما لمسی ان لړ برابرې جامې هم نه لري چې وایې غوندي. هغه په داسې چېشنو او زړو کالیو کې ګرزي چې سوالګر ځنې وېرېږي. احمد چې په ټول عمر کې یې په مړه ګېډه ډوډۍ نه ده خوړلې نو د پاچا لور به څرنګه وساتلی شي؟ نه، لوی واکمنه،دا کار مه کوه.
پاچا په غوسه شو:
- دا ستا د فکر کار نه دی، ما وویل چې خپله لور ستا لمسي ته درکوم، همداسې به کېږي.
سپین سرې ته نور د ویلو څه ور پاتې نه شوه، د پاچا لور یې له ځان سره ملګرې کړه او دواړې کور ته ولاړې او په کور کې یې ټوله کیسه احمد ته وکړه. احمد سره له دې چې د پاچا دې ناڅاپي پرېکړې پرېشانه کړ خو د بسترې څخه پورته نه شو.
د پاچا لور ډېره هوښیاره او چالاکه وه. هغه د پلار غوسې او د دې نابېره ودولو ونه وېروله، پرېکړه یې وکړه چې له خپل ټنبل خاوند سره ټولې ستونزې وزغمي.
د پاچا لور تر هرڅه د مخه په دې پوه شوه چې خاوند یې د ټنبلی له امله خواړه په بستره کې خوري، نو ځکه دې په لومړی ورځ خواړه په مېز تیار کړل او احمد ته یې وویل چې مېز ته راشي او خواړه وخوري. احمد خپلې مېرمنې ته ډېرې زاری وکړې چې خواړه بسترې ته ور ته راوړي خو هغې ور سره و نه منله. احمد هم مخ دېواله ته واړاوه او ویده شو. په دوهمه ورځ هم پرونی خبره تکرار شوه. احمد پوه شو چې ښه وږی دی، که د لوږې مړ هم شي څوک بسترې ته خواړه نه ور ته راوړي نو ځکه په اخ، واخ کولو را پورته شو او د خوړو مېز ته راغی. احمد ډوډۍ وخوړه او سمدلاسه ویده شو. مېرمنې یې هره ورځ د خوړو مېز لږ، لږ د بسترې څخه لیرې کاوه. څو ورځې وروسته به چې څرنګه خواړه تیار شول احمد به سمدلاسه را پورته شو او د خوړلو له پاره به مېز ته راغی. وروسته له دې مېرمنې خواړه په انګړ کې په شنو وښو په دسترخوان اېښوول. احمد دلته هم د ډوډۍ خوړلو له پاره راتلو خو د ډوډۍ تر خوړلو وروسته سمدلاسه بسترې ته تلو او ویده کېده.
یوه ورځ د پاچا لور فکر وکړ چې احمد په څه ډول له کور څخه بېرون ته راوباسي. هغه پوهېدله چې د احمد مټک ډېر خوښېږي نو ځکه بازار ته ولاړه او دوه پاوه مټک یې رانیول. مټک یې د کټارې څخه د کور تر دروازې پورې وشیندل او احمد ته یې وویل:
- احمده، بس دي نور دا پرېوتل. هلته په انګړ کې مټک پراته دي، ورشه را ټول یې کړه او ویې خوره.
د احمد له پاره پورته کېدل سخت و خو ډېر یې غوښتل چې مټک وخوري. هغه له بسترې را پورته شو، په ډېرو ستونزو یې مټک راټول کړل، و یې خوړل او بېرته څملاست.
نجلۍ بله ورځ یو بل چل، په بله ورځ بیا یوبل چل وکړاو ورو، ورو یې ټنبل احمد بېرون ته له وتو سره بلد کړ.
وروسته له دې هغې پرېکړه وکړه چې احمد بازار ته د کار کولو لپاره ولېږي، خو احمد مخالفت وکړ او ویې ویل:
- زه چې هېڅ کار نه شم کولی نو څرنګه به کار ځان ته پیدا کړم؟
مېرمنې ورته وویل:
- ته یوازې کوڅې ته ووزه او چیغه وکړه چې د چا مزدور په کار دی، و به وینې چې د یو چا به هرومرو مزدور په کار وي. خو ګوره هر څوک چې در ته راغلل پروا نه لري، مشاجره به نه ورسره کوې، ورسره ولاړ شه.هغه به هرومرو تا ته کار درکړي.
مېرمنې په یو ډول د ډولونو احمد بېرون ته وایست. هغه د لارې په منځ کې ودرېد او په ډېر ټیټ غږ یې چیغې وهلې:
- د چا مزدور په کار دی؟
ناڅاپه یوسړی احمد ته راغی او ور ته ویې ویل:
- زوی جانه، زه یو بڼ لرم، هغه په بېل واړوه زه به یې په بدل کې یو تومن درکړم.
احمد غوښتل چې سړي ته د نه ځواب ورکړي خو د مېرمنې خبره ور په یاد شوه نو ځکه له هغه سره ولاړ. تر مازدیګر پورې یې د بڼ ځمکه واړوله، خپله اجوره یې واخیستله او د کور لوري ته راروان شو.
احمد د لارې په اوږدو کې ولیدل چې یو سړی خپله پشۍ پلوري. هغه خپل یو تومن پلورنکي ته ورکړ او پشۍ یې رانیوله. کور ته چې راورسېد د پاچا لور پوښتنه ځنې وکړه:
- احمده، تا نن څه وکړل او څومره اجوره د واخیستله؟
احمد ځواب ورکړ:
- ما نن یو تومن وګټلو خو هغه مې په دې پشۍ ورکړ.
مېرمنې هغه و نه رټلو خو ور ته ویې ویل:
- اوس چې ته د کار کولو سره بلد شوې نو لیرې ځای ته سفر وکړه. ته باید وګرزې او نوي، نوي ځایونهووینې.
احمد بیا هم ټنبلي واخیست، د مېرمنې د خبرې سره د مخالفت له امله یې وویل:
- زه څرنګه کولی شم چې لیرې ځای ته سفر وکړم، نه آس لرم او نه پیسې، د لارو سره هم نه یم بلد.
د پاچا لور په خپله خبر ټینګه ولاړه وه نو ځکه یې احمد ته وویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- سبا ولاړ شه بازار ته او هلته د لاري په څنګ کي ودرېږه. ستا څنګ ته به د اوښانو کاروان تېرېږي. که چېري ته د کاروان څښتن ته ووايي چي تا ورسره بوزي او ته به د دي په بدل کي له هغه سره مرسته وکړې، دکاروان څښتن به ستا د تلو سره موافق او ته به له هغوی سره ولاړ شي.
احمد پوهېده چي مېرمن يي په هر صورت په خپله خبر ټينګه ولاړه ده، ځه يي چي وويل همغسي بايد وشي، له همدي امله ده هم د هغي خبره ومنله. سهار شو، احمد ولاړ او د لارې په څنګ کي ودرېد. رښتيا هم لږ شيبه وروسته د اوښانو ليکه راښکاره شوه. احمد د کاروان څښتن ته ورغی او هغه ته يي وويل:
- مهربانه سړيه، ما به هم له ځان بوزې؟زه به د دي په بدل کي ستا سره په لاره کي مرسته کوم.
- ښکاره خبره ده چي راسره بيايم دي، ما همداسي يو ځوک لټاوه، په آسمان مي غوښت په ځمکه مي پيدا کړ.
احمد په دي ډول په سفر روان شو. د دوی سفر د دښتي له لارې و او د دښتي په نيمايي کي يي اوبه خلاصي شوې.
هغوی چي تندي په سر اخيستي وو لږ يا ډېر به تللي وي چي يوه څاه ته راورسېدل.د کاروان څښتن احمد راوغوښت او ورته ويې ويل:
- زوی جانه، موږ به تا څاه ته ور کښته کړو او ته به لږ اوبه له څاه څخه راوباسې.
احمد چي اوس له هو ويلو سره بلد شوی و د کاروان د څښتن له دي وړانديز سره يي هم موافقه وکړه. هغه يي په پړي وتاړه او په څاه کي يي ور کښته کړ. احمد چي د څاه تلي ته ور کښته شو ويې ليدل چي شا و خوا يي نه دېوال شه او نه هم روښنايي، تنها له پورته لوري څخه د لمر لږ برخه ځلېدله.هغه ډېر مزل وکړ تر څو يوه سيند ته ورورسېد. د سيند څخه يي دوه ژيه له اوبو ډک کړل او بېرته هغه ځای ته راغی چېري چي راکوز شوی و. احمد خلکو ته غږ وکړ چي پورته يي کړي خو د ځواب په بدل کي يي ډېر لوړ وېرونکی غږ واورېد او له غږ سره سم ديو راپيدا شو. احمد ووېرېد او غوښتل يي چي وتښتي خو د تېښتي هيڅ لاره نه وه. ديو په خپلو لاسونه د ده ټولي لارې بندي کړې، پورته خو بې له هغې هم نه شو ختلی. ديو وغورېد:
- ای د انسان بچيه، زه د وينم چي غواړې له ما څخه وتښتي. خو ته په دي پوه شه چي له ما څخه هېچېرې نه شي تښتېدلی. دلته هيڅ ژوندی موجود نه دي راغلی. ته نېکمرغ يي چي زه نن خوشاله يم. زه اوس ستا څخه يوه پوښتنه کوم، که سم ځواب د راکړ نو ته خلاص يې او که ځواب د رانکړ- ټوټې،ټوټې به د کړم.
ديو احمد له ځانه سره روان کړ او خپلي ماڼۍ ته يي ورسره بوتلو. دا ماڼۍ دومره ښکلي وه چي د احمد سترګي ور ته سپيني شوې. ټوله ماڼۍ په سروزرو او قيمتي ډبرو پوښل شوي وه. ديو احمد په کوټو کي ګرزولو، دوی په نه ديرشو کوټو کي وګرزېدل. په څلوېښتمه کوټه کي د سروزرو په پتنوس کي ځنګښي ته ودرېدل. ديو له احمد څخه پوښتنه وکړه:
- ښه د انسان بچيه، اوس ووايه چي په نړۍ کي ډېر ښايسته کوم څه دي؟
احمد ځواب ورکړ:
- په نړۍ کي ډېر ښايسته هغه څه دي چي ته مينه ورسره لرې.
دا خبره د ديو ډېره خوښه شوه ځکه چي هغه په همدي ځنګښنه مين و. ديو د احمد له وژلو تېر شو، هغه ته يي يو انار او يو لوی مټک د ډالې په ډول ورکړل او رخصت يي کړ. احمد څاه ته راغی خو هر څومره چيغي يي چي وکړې هيچا ځواب ور نکړ ځکه چي د دوی کاروان ډېر وخت مخکي له دي ځايه تللی و.
بايد ووايو احمد چي کله په دي سفر روانېده له ځان سره يي هغه پشی هم راوستلي وه چي ده په يوه تومن رانيولي وه. کله چي کاروان له دي ځايه روان شو پشی له هغو سره ولاړه نه شوه او همدلته د څاه سره خپل خاوند ته منتظر پاتي شوه. پشي د څاه په سوري کي ور کتل او پرله پسي ميو، ميو يي کاوه.
په بل سهار کوم يو کاروان د څاه په څنګ کي تېرېده. په کاروان کي روانو خلکو واورېدل چي پشي په داسي لوړ آواز ميو، ميو کوي چي نږدې ده ستونی يي څيري شي. هغوی فکر وکړ چي دلته هرومرو پټ څه شته. د کاروان څښتن څاه ته ورغی او هلته يي واورېدل چي يو ځوک چيغي وهي:
- اي لاروپانو، زما سره مرسته وکړي او له دي ځايه مي در و باسی...
د کاروان څښتن خپلو ملګرو ته ورغږ کړ، هغوی هم راغلل. دوی څاه ته پړی ور وځړاوه او احمد يي له څاه څخه را و ايست.احمد هغوی ته ټوله کيسه وکړه چي څه ور پېښ شول او وروسته له هغوی سره يو ځای روان شو.
کاروان د نريو پښو لرونکو ملک ته راورسېدل او د شپې د تېرولو له پاره يي په کاروان سرای کي واړول. نوکرانو ډوډۍ تياره کړه، مېلمانه د ډوډۍ خوړلو ته کېناستل. د کاروانسرای څښتن او ټوله کورنۍ يي د سوټيو سره د مسافرو شا ته ودرېدل. مسافر ډېر ووېرېدل، هغوی فکر وکړ چي د کاروانسرای څښتن غواړي چي دوی ووژني. له همدي امله د کاروان څښتن وويل:
- آی ورونو، که تاسو غواړۍ چي موږ ووژنۍ نو د ډوډۍ له خوړلو مخکي دا کار وکړۍ او موږ له دې رنځوونکي انتظار څخه خلاص کړۍ، دا ستاسوڅه ناوړه دود دی؟
د کاروان سرای څښتن ځواب ورکړ:
- موږ ستاسو د وژلو فکر نه لرو، تاسو لږ صبر وکړۍ چي ډوډۍ راوړې هله به بيا پوه شی چي موږ څه کوو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

نوکرانو خواږه راوړل په همدې وخت کې له هرې خوا څخه دومره موږک راغلل چې په قابونو کې يې ان هډوکي هم پرې نښوول. د کاروان سرای خاوند او کورنۍ يې په موږکانو يرغل وروړ، ټول يې و نشوه وژلی يوازې يو څو درجنه يې ځنې ووژل، پاتې موږک بېرته په خپلو غارونو ننوتل. مېلمانه حيران شول خو احمد د کاروانسرای د خاوند څخه پوښتنه وکړه:

- ورور جانه، تاسو پيشوګاني نه لرئ؟

- د کاروانسرای څښتن د هغه پوښتنه تکرار کړه:

- پيشوګاني؟ پشی څه شی ده؟زموږ په ملک کې داسې څه نه شته.

احمد خپله پشی او نوکرانو دوهم ځلي خواږه راوړل. احمد خپله پشی خوشې کړه. کله چې موږکان د خپلو غارو څخه راوتل پشی ټول يو په بل پسې ووژل. د کاروان سرای څښتن د حيرانتيا له امله وچ کلک په خپل ځای ودرېد. کله چې په هوښ راغی له احمد څخه يې هيله وکړه چې دا پشی به ده وپلوري. هغه د پشی په بدل کې احمد ته ښه ډېر سره زر ور کړل.

په دا بله ورځ يو بل کاروان د احمد دغو د ښار لوري ته روان و.احمد هغه انار او متک چې ډېو ورکړي وو، لږ سره زر چې د پشی د پلورلو څخه يې لاسته راوړي وو، خپلې مېرمنې ته ور ولېږل او په خپله د کاروان سره نورو کليو او ښارونو ته روان شو او په سوداګرۍ يې پيل وکړ.

احمد د ځي او خپله سوداګري د کوي، موږ به وګورو چې د ده مېرمنې ته څه ور پېښېږي.

مېرمنې چې د احمد رالېږل شوي سره زر تر لاسه کړل سمد لاسه يې وستاکران (بنايان)را وغوښتل او يوه اووه پوړيزه مانۍ يې جوړه کړه. مانۍ دومره ښکلې وه چې د دې د پلار- پاچا مانۍ د هغې په پرتله داسې ښکارېده لکه آسجل. کله چې مانۍ جوړه شوه نو هغې وغوښتل چې د احمد را لېږل شوی انار وخوري. خو کله يې چې انار په منځ نيم کړ ويې ليدل چې په هغه کې د انار د دانو په ځای ډېر ارزښت لرونکي غمي پراته دي. هغې دا غمي وپلورل او د هغو په پيسو يې کور په ډېر ارزښت لرونکي فرش، قيمتي لوښو او نازکو پردو ښکلی کړ.

لږ وخت وروسته احمد هم د سفر څخه راوګرزېد. هغه د خپلې کوډلې ځای ته ورغی خو هغه يې و نه ليدله، د هغې په ځای يوه دنګه مانۍ ولاړه وه. احمد د مانۍ په دروازه کې د ولاړ نوکر څخه پوښتنه وکړه:

- ورور جانه، دلته يوه وړه کوډله وه، ته نه پوهېږې چې هغه څه شوه؟

نوکر ځواب ورکړ:

- دا همغه کور دی چې ته يې پوښتنه کوې.

احمد فکر وکړ چې نوکر په ده ملنډې وهي نو ځکه يې بيا پوښتنه ځنې وکړه:

- ورور جانه، ته ولې ما تېرباسې؟

د دې خبرو په شور ماشور فاتو- ګرې، د احمد انا راووتله. هغې چې خپل لمسی وليد چيغه يې وکړه:

- زوی جانه، ته لکه چې ما نه پېژنې؟ دا کور ستا مېرمنې جوړ کړی.

احمد چې کله کور ته ننوت او ويې ليدل چې کور د ننه څومره ښکلی او له ارزښت لرونکو څيزونو ډک دی بېخي حيران شو. هله نو مېرمنې ده ته کيسه وکړه چې څرنګه يې دا کور جوړ کړ. مېرمنې چې احمد ته خواږه ورکړل نو د ده رالېږل شوی متک يې مات کړ. خو په متک کې د مغز په ځای داسې وربښمين کالي ابښي وو چې پاچاهان يې اغوندي. مېرمنې دا کالي را واخيستل، خپل خاوند ته يې ور واغوستل او ويې ويل:

- احمده، اوس به زما پلار را مېلمه کړو. هغه چې ستا څخه هره ډول پوښتنه کوله ته يوازې رښتيا ور ته وايه.

سهار شو. نجلی خپل پلار او ټول درباريان مېلمستيا ته را وغوښتل. کله چې پاچا د خپلې لور کور ته ور ننوت د ډېرې حيرانتيا يې ګوته په غاښ ونيوله. دومره شته د ده په خزانه کې هم نه شته. مېلمانه يې د ډوډۍ خوړلو مېز ته را وبلل، په مېز د نړۍ تر ټولو غوره خواږه ابښي وو. پاچا چې خواږه په ډېره مينه وخوړل له احمد څخه يې پوښتنه وکړه:

- زوی جانه، دا کور چا جوړ کړی؟ تا دا دومره ښه څيزونه له کومه کړل؟

احمد پاچا ته ټول هغه څه وويل چې په ده تېر شوي وو او خپلې خبرې يې داسې پای ته ورسولې:

- پاچا د تل جوړ او سلامت وي، دا هر څه چې تاسو يې وينۍ ټول ستا لور کړي دي. کور هغې جوړ کړی او ما ته يې نېکمرغه ژوند را په برخه کړی.

د پاچا لور په دې وخت کې له خپل پلار څخه پوښتنه وکړه:

- پلاره، ته اوس په دې باوري شوې چې کور ښځه جوړوي؟

پاچا سر کښته واچاوه او ځواب يې ورکړ:

- لوري، ته رښتيا وايې.

پاچا امر وکړ چې اووه شپې او اووه ورځې به د ده د لور او احمد د واده جشن وي.

د آذربايجان د خلکو کيسه

د ګل جان صابر ژباړه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولۍ